## <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

# د ګرځبندیز په نیمایي کې د مرستو چور او د خوراکي توکو ناورین، د حکومت له سیستماتیک فساد او ناوړه څېرې څخه پرده پورته کړه؛

## یوازې د دویم راشده خلافت په تاسیس سره د ظالمې ـ تولیدي سېکولر ډیموکراسي په پای ته رسولو سره د بنګله دېش خلک خلاصون مومي

په بنګله دېش کې خلک د ګرځبندیز پر مهال د خوړو د تر لاسه کولو له سخت ناورین سره لاس او ګرېوان دي. په ټول هېواد کې د مرستې رسولو چور روان دی، دا ټول فساد د حسینه د سیاسي ویناوو تر شا له دوکې ډک هنر دی. د کرونا ویروس د لېږد د محدودولو لپاره د پراخه ګرځبندیز په وضع کولو سره حکومت اعلان وکړ، چې ۳۰زره ټنه وریجې او شاوخوا ۲۲۰ میلیونه نغد ډالر یې په بېلابېلو ولسوالیو کې د مرستې لپاره په پام کې نیولي دي، چې له ټیټ عاید لرونکو خلکو سره مرسته کوي. شیخ حسینه د وېډیویي کنفرانس له لارې په کلکه وغوښتل چې د ورځني کارګرو، رکشا چلوونکو او ټرانسپورټي کارکوونکو لیست دې چمتو شي،

تر څو هېڅوک وږي پاتې نه شي (ډاکه ټریبیون، ۲۰۲۰م کال، د مارچ ۳۱مه).

که څه هم حکومت په مکرر ډول هڅه کوي خلکو ته په زور د سوکاله بنګله دېش په اړه داسې خبرې وکړي: «هر څوک به د سوکاله ژوند څښتن وي، هېڅوک به وږی او بې کوره نه وي او هېڅوک به له درملنې پرته ناورغ نه وي.» اوسمهال هر څوک پوهېږي چې د هغې دروغ عادت ګرځېدلي دي او موخه يې د خلکو ساتل نه، بلکې د هغوی غولول دي، په داسې حال کې چې حتی د حسینه له سخت اخطار (!) وروسته چې د بېوزلو د خوراکي مرستو د ناوړه ګټه اخیستنې پر وړاندې به ګام اخلي، بیا هم ډله ییزه غلا تر اوسه جریان لري، په داسې حال کې چې هره ورځ زرګونه زیانمن شوي بېوزله کسان د سمیه ییز حکومت له لوري د خوړو د مرستې د تر لاسه کولو لپاره نه یوازې سرګردانه کېږي، بلکې سیمه ییزو دفترونو او استازو ته مراجعه کوي او تش لاس بېرته خپلو کورونو ته ستنېږي. (ډاکه ټربیون، د ۲۰۲۰م کال د اپرېل ۱٦مه)

د مسئلې حقیقت دا دی چې د خاین حکومت له لوري د دروغجنو ژمنو او ویناوو سربېره د بېوزلو خلکو لپاره د رښتینو مرستو وېش نه دی ترسره شوی. له شک پرته چې هره ورځ ځینې مرستې د ولسوالیو له لارې وېشل

کېږي، مګر بېرته د سیاسیونو، د شوراګانو د غړو او مشرانو له لوري لوټل کېږي. د واکمن ګوند خلک پر ټولنیزو رسنیو د مبالغې لپاره د مرستې رسولو د وېش پر جعلي عکسونو بوخت دي. په حقیقت کې، هغه زاړه بزګران چې د حکومت له (۳۳۳) شمېرې سره یې د مرستې لپاره اړیکه نیولې وه، د خپلو مشرانو له خوا وهل شوي دي. (ډاکه ټربیون، د ۲۰۲۰م کال، د اپرېل ۱۴مه).

د واکمن ګوند له خوا د خوړو د ناوړه ګټې اخیستنې په موخه د ځینو کسانو نیول په حقیقت کې د غټو کبانو نیول او د رژیم د انځور ساتنې لپاره قرباني شوې بکسه ده. په داسې حال کې چې حسینه د خپل ګوند ځینو کسانو ته اجازه ورکړه، تر څو د تش په نوم «انکشافي پروژو» له لارې فرصتونه رامنځ ته کړي، هغه اوس همدا «سیستماتیک فساد» لرې پرتو کونجونو ته هم لېږي، چې د فاسدو ګوندونو پاتې غړي بېرته خپل پخواني حالت ته راستانه کړي.

**اې خلکو!** حزب التحریر به هېڅلکه تاسو ته له دې تذکر څخه ستړی نه شي، څومره چې سېکولر ډیموکراسي پاتې وي، د اداري فساد داسې کړکېچ به دوام مومي. دا ناقص واکمن نظام دی، چې انسان ته د قانون حق ورکوي، په طبیعي ډول د خپلو شتمنیو لپاره فساد او کړکېچ ته لاره

هواروي. د سېکولر واکمنانو فساد یوازې د نبوت پر منهج راشده خلافت سره معامله کېدلای شي، چې هېڅوک پکې د قانون جوړولو واک نه لري. خلک یوازې هغه څه پلي کولی شی چې مخکې قرآن او سنتو ورته مشخص کړي دي.

**اې مسلمانانو!** د هغه خلافت لپاره چې د تاسیس ژمنه یې شوې لستونې بډ وهئ او هلې ځلې وکړئ، چې د عمر ابن الخطاب په څېر واکمنان پیدا کړئ، چې ویل یې:

"لو أن جملا أو قال شاة أو قال حملا، هلك بشط الفرات، لخشيت أن يسألني الله عنه"

*ژباړه: «که زما تر لاس لاندې پسه یا اوښ او یا هم وری د فرات پر غاړه مړ شوی وی، ما به د الله سبحانه و تعالی څخه تمه درلوده چې د قیامت په ورځ به د هغه په اړه له ما څخه پوښتنه کوي» [حلية الاوليا]*

**د حزب التحریر- ولایه بنګله دېش مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د شعبان ۲۵مه**

**۲۰۲۰م کال، د اپرېل ۱۸مه**

د صدور گڼه: ۱۴۴۱/۱۵